AMSO
Afghanistan Media Support Organisation

په پاکستان کې د مېشتو افغان خبریالانو د بدو او ناوړه شرایطو په تړاو د سملاسي پاملرنې غوښتنه

To:

5/ 11 / 2025

His Excellency Mr. António Guterres, Secretary-General of the United Nations,
The Office of the United Nations High Commissioner for Refugees (UNHCR),
The Office of the High Commissioner for Human Rights (OHCHR) in Geneva,
Ministry of Foreign Affairs of Pakistan

د ملګرو ملتونو سرمنشي ډېر قدرمن ښـــاغلی انتونیو ګوترېش، د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو عالي کمېشنرۍ دفتر (UNHCR)، پـــه جینوا کـــې د بشري حقونو عـــالي کمېـــشنر دفتر (OHCHR) او د بشري حقونو او د رســـنیو د ازادۍ ملاتړکوونکو ډېرو قدرمنو سازمانونو سلامونه او نېکې هیلې.

دغه لیک شـــاوخوا ۳۰۰ افغان خبریالانو او د رسنیو کارکوونکو لاســـلیک کړی او محتوا یې ستاسې درانه حضور ته وړاندې کوو:

د افغانستان رسنیو ملاتړ سازمان (AMSO) په ډېرې ژورې اندېښنې سره غواړي چې په پاکستان کې د مېشتو افغان خبریالانو د ناوړه او له ګواښه ډک شرایطو په اړه تاسې ته خبر درکړي. له هغه وخت راهیسې چې په ۲۰۲۱ کال کې طالبان پر افغانستان واک ته ورسېدل، سلګونه خبریالان او د رسنیو کارکوونکي د یادې ډلې د ګواښونو، سانسور، نیونو او ځورونو له امله اړ شول هېواد پرېږدي او د لنډمهالې ژوند لپاره پاکستان ته پناه یوسي.

خو له بده مرغه د تېرو څو کلونو راهیســـې د دغو خبریالانو وضعیت ورځ تر بلې خرابېږي. په پاکســـتان کې ډېرې افغان خبریالان له قانوني اســـنادو، ویزو او د خوندیتوب له هر ډول تضمین پرته ژوند کوي؛ داســـې وضعیت چې پاکســـتاني دولت ان د هغوی ویزې هم نه تمدیدوي. دوی هره ورځ د نیونو، شکنجو، باج‌اخیستنې او اجباري شړلو (ډیپورټ) له ګواښ سره مخ دي. په وروســـتیو میاشـــتو کې د پاکستان حکومت د بې‌اسنادو افغان کډوالو د شړلو لړۍ چټکه کړې ده چې دغه اقدام خبریالان او د هغوی کورنۍ له جدي خطر سره مخ کوي، ځکه په افغانســـتان کې د هغوی مسلک او کار د حاکمې ډلې د ځورونې یا ان د مرګ ګواښ ورسره مل دی.

پـــه ورته وخت کې د خبریالانو لپـــاره د کډوالۍ او بشري ویزو بهیرونه خـــورا ورو او بې‌پایلې روان دي. ډېرې هغه دوســـیې چې په تېرو څو کلونو کې سفارتونو او نړۍوالو پروګرامونو ته سپارل شوې، لا هم بې‌پایلې پاتې دي. دغه وضعیت د خبریالانو کورنۍ له سخت اقتصادي، رواني، ذهني او ټولنیز فشار سره مخ کړې دي.

له ملګرو ملتونو او نړۍوالې ټولنې نه زمونږ غوښتنې:

۱- د پاکستان له حکومت نه دې غوښتنه وشي چې د افغان خبریالانو د ایستلو (ډیپورټ) بهیر دې سملاسي ودروي او د هغوی د خوندیتوب، عزت او بشري حقونو ته په ډېر درناوی پاملرنه وکړي.

۲- هغو خبریالانو ته چې له خطر سره مخ دي، قانوني اسناد او د لنډمهالي خوندیتوب اجازه‌لیکونه ورکړل شي.

۳- له اړوندو هېوادونو دې جدي غوښـــتنه وشي چې د افغان خبریالانو د بشري ویزو او بیامېشتېدو بهیر چټک کړي، په ځانګړي ډول د هغو کسانو لپاره چې د باوري بنسټونو له خوا واریفای او معرفي شوي دي.

۴- له ســـفارتونو او هېوادونو دې غوښـــتنه وشي چې هغه خبریالان او کورنیو ته یـــې لومړیتوب ورکړي چې د پاکستان د شړلو یا ګوابښ تر سیوري لاندې ژوند کوي.

۵- د بې‌وسه او بې‌ځایه شویو خبریالانو لپاره دې بیړنۍ بشري مرستې او رواني ملاتړ پروګرامونه عملي کړي.

۶- له نړیوالو او سیمه‌ییزو مدني بنسټونو سره دې همغږي ډېره شي ترڅو د افغان کډوالو د حقونو خوندیتوب لپاره سملاسي او اغېزمن ګامونه واخیستل شي.

د افغانســـتان رسنیو ملاتړ سازمان (AMSO) د بیان ازادۍ، د خبریالانو د خوندیتوب او د حقیقت‌ویلو ارزښتونو ملاتړ ته ژمن دی. دغه بنســـټ له تاســـو ټولو قدرمنو په جدي توګه غواړي چې بیړني، عملي او مؤثر اقدامات ترسره کړئ ترڅو د افغان خبریالانو ژوند، حقونه او ازادي خوندي شي. مونږ ستاسې ملاتړ ته سترګې پر لار یو.

په درنښت

د افغانستان رسنیو ملاتړ سازمان (AMSO)

Copies:
RSF – Reporters Without Borders (Reporters Sans Frontières)
IMS – International Media Support
CPJ – Committee to Protect Journalists
FNF – Friedrich Naumann Foundation for Freedom (Friedrich-Naumann-Stiftung für die Freiheit)
Internews – Internews Network
JHR – Journalists for Human Rights
NED – National Endowment for Democracy
IFJ – International Federation of Journalists
UNHCR – United Nations High Commissioner for Refugees
PEN Canada – PEN Canada (part of PEN International)
Amnesty International – Amnesty International
CHRI – Commonwealth Human Rights Initiative
FIDH – International Federation for Human Rights (Fédération Internationale pour les Droits Humains)
ECPMF – European Centre for Press and Media Freedom
IPI – International Press Institute
Global Forum for Media Development (GFMD) – Global Forum for Media Development
Front Line Defenders – Protection for Human Rights Defenders at Risk
Open Society Foundations (OSF) – Support for Media Freedom and Human Rights
NHRF – Norwegian Human Rights Fund
MICT – Media in Cooperation and Transition

WEBSITE: AJSO.ORG EMAIL: OFFICIAL@AJSO.ORG LINKEDIN: AMSO-AFGHANISTAN-MEDIA-SUPPORT-ORG

X : AFGHANISTANMSO FACEBOOK: AFGHANISTANMSO INSTAGRAM: AFGHANISTANMSO